محمدمعصوم هوتک
۲۰۲۵/۰۶/۱۱

# وزیر محمد گل خان مومند په کندهار کې

ښاغلي محمد داود مومند د روان عیسوي کال د مي پر ۱۵مه د یوه پیغام په ترځ کي راته کښلي وه چي په پام کي لري پر وزیر صاحب محمد گل خان مومند باندي خپلي خېرې سوي لیکنې د یوه کتاب په بڼه چاپ کړي. دا لیکنې ما په آریانا افغانستان ویبپاڼه کي لوستي دي چي د وزیر صاحب مرحوم په اړه د بېلابېلو افغاني پوهانو خاطرې او لیکني پکښې راغونډې سوي دي. په پیغام کي ئې زما څخه ئې هم پر یاده موضوع باندي د څه لیکلو غوښتنه کړې وه. زما څخه ناروغی له بده مرغه د جدي تحقیق وس و توان اخیستی دئ، خو د دې له پاره چي د محترم محمد داود مومند غوښتنه مي پر مځکه اچولې نه وي، تر پورتني سرلیک لاندي مي خواره واره معلومات په تلوار ورته ولیکل. امید دئ، قبول ئې کاندي.

کندهار ته د معاصر افغانستان د تاسیس له وخته بیا د سردار محمد داود خان د جمهوري ریاست د سقوط تر ورځو پوري افغاني واکمنانو د خپل پلرني ټاټوبي په سترگه کتلي ول او حقیقت هم دا وو چي دغه ولایت د کورنیو او بهرنیو دولتونو په نظر د نورو ولایتونو په پرتله زیات تاریخي او سیاسي اهمیت درلود. د همدې تاریخي او سیاسي اهمیت له اسیته د وخت واکمنانو هر وخت دې ولایت ته خپل ډېر معتمد اشخاص د والي، رئیس تنظیمیه او نائب الحکومه په توگه ټاکلی وو. په دې لړ کي اعلیحضرت محمد نادر خان د خپل سلطنت په دوهم کال خپل ډېر معتمد شخصیت محمد گل خان مومند، چي د خپل ځنم وررور په سترگه ئې ورته کتل، کندهار ته ته د مقتدر او با صلاحیته رئیس تنظیمیه په توگه ولېږه. محمد گل خان مومند چي افغان اولس د وزیر محمد گل خان مومند په نامه پېژاند[1]، د ۱۳۰۹هـ ش کال د حوت پر اوومه د چمن ـ سپین بولدک له لاري کندهار ته د خپل نوي ماموریت د پیل له پاره ورسېد.[2] د کندهار د مطبعي مصحح سید حسین ورته د راتگ پر وخت یو شعر وواېه:

**خدای دی راوله وزیر محمد گل خانه**
**کندهار دي په راتلو خپل کئ روښانه**
**په راتگ ستا بی حسابه منت بار یو**
**د غازي محمد نادر، شاهِ افغانه**
**ستا صفت وو پیش تر دې موږ اروېدلی**
**چي موږ ولیدی الحق هزار چندانه**
**په اثر دي د نامه وطن گلزار سو**
**شگفته گل دي ساته رب له خزانه**
**پاک الله دي معاون سه په هر کار کي**
**چي نافع وي زموږ له پاره مهربانه**
**په خدمت زموږ د وطن که څه رحمت وي**
**په راحت دي خدای لره عالي نشانه**
**پرهېزگار سری هر کار له مخه وړای سي**
**و نیکانو ته دئ هر مشکل اسانه**

[1] محمد گل خان مومند د محمد نادرشاه د پاچهی په پیل کي داخله وزیر وو او له همدی اسیته په وزیر محمد گل خان مشهور وو.
[2] په افغانستان پېنلیک ـ ۲۶۶ مخ کي دا نېټه " سه شنبه ۶مه د حوت، ۱۳۰۹ش" لیکل سوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**ستا په ښو ښو شفا بخشو نسخو غواړم**
**د وطن امراض معدوم له پاک سبحانه**
**شکر شکر انقلاب تېر سو فرحت دئ**
**د حاسد د مکر خونه سوله ورانه**[3]

له پورتني شعر څخه ځرګندېږي چي وزير محمد ګل خان مومند د کندهار اولس ته نا پېژندلی کس نه وو. د ده د کارکردګي او پاک نفسی صفتونه د افغانانو غوږو ته رسېدلي ول او له همدې اسیته ئې کندهاريان په راتګ ډېر خوشاله ول.
وزير محمد ګل خان په کندهار کي د يوه خواخوږي مشر په توګه په اولس کي دونده ( دومره) محبوبيت درلود، چي د زياترو کندهاريانو کورونو ته لا هم هر وخت ورتلئ او ما د خپلي مور له خولي اورېدلي وه چي زموږ کور ته هم زما د مورني نيکه مولوي صالح محمد خان هوتک د ليدو کتو له پاره څو پلا په بګی کي راغلی وو. مولوي صاحب په دغه وخت کي د کندهار مدير معارف وو.
زه په دې ليکنه کي په کندهار کي د وزير محمد ګل خان مومند د وخت پر څو مهمو فرهنګي او عمراني کارو رڼغېږم.
په فرهنګي کارو کي د وزير صاحب تر ټولو مهم کار د کندهار ادبي انجمن جوړېدل وو. د ادبي انجمن له پاره د کندهار ښار غوره کول تصادفي انتخاب نه وو. د دې ښار ادبدوستانو د هوتکو په عصر کي د نارنج مانی د ادبي دربار، په احمدشاهي دوران کي پخپله د احمدشاه بابا ، پيرمحمد کاکړ او نورو له خوا د ادبي فعاليتو او په وروسته کي د سردار مهردل خان مشرقي د ادبستان سابقه درلوده. په سراجي عصر کي د سراج الاخبار پښتو همکاران مولوي صالح محمد، عبدالهادي داوي ( پرېشان)، غلام محی الدين افغان، عبدالرحمن خان لودين، سيد مير محسن، ملا عبدالباقي افغان، عبدالرسول محمدزی ټول د کندهار منورين ول.دغه راز په اماني عصر کي که څه هم د پاچا او دولت ډېره زياته پاملرنه د معارفو پراختيا او پرمختيا ته اوښتي وه، خو د پښتو مرکي جوړېدل او تاسيس پخپل ذات کي د دې حقيقت شاهدي ورکوي چي پاچا او د هغه ملګرو پښتو ژبي او ادب ته هم جدي توجه کړي وه او د دې ستري ملي برنامي له پاره ئي مولوي عبدالواسع کاکړ او عبدالرحمن خان لودين د مشرانو په توګه ټاکلي ول. دوی دواړه د کندهار اوسېدونکي ول. کله چي غازي امان الله خان په کندهار کي د " طلوع افغان" جريدې د تاسيس اراده وکړه او دغي جريدې په نشراتو پيل وکړ، په دغه وخت کي په کندهار ښار او شاوخوا کي د منورينو او قلموالو يوه ځوانه ، پر ژبه و ادب مينه کړی موجوده وه چي په هغي کي د بابا عبدالعزيز خان الکوزي، مولوي صالح محمد هوتک، مولوي محمد ويس کاکړ، رحمت الله مشهور په بابا، حاجي ولي محمد مخلص، محمد اعظم ايازي، مولوي عبدالخالق واسعي، عبدالحی حبيبي ، محمد رفيق حبيبي، حاجي عطا محمد خان، حاجي عبدالغفور خروټی، ملا بهاوالدين ساګزی، محمد ګل لګيا (نوري)، عبدالغفور خان شرر، محمد نسيم نوري او نورو نومونه يادولای سو. دوی ټولو د پښتو ژبي د ادب پر اورشو د ادبي انجمن تر جوړېدو تر مخه لا عملي کارونه کړي ول. شعر ئې ويلي وو، د ژبي ګرامر ته ئې کار کړی وو، د سواد او ليک لوست د عامېدلو له پاره ئې هلي ځلي کړي وي، د خرافاتو او ناوړو دودونو پرضد ئې په شعر او قلم مجادلي کړي وې، او نور او نور. دغه ذوات ټول د ادبي انحمن تر جوړېدو وروسته د انجمن اصلي يا افتخاري غړي سول.
وزير صاحب محمد ګل خان مومند همدغي عيني وضع ته په کتلو سره د پښتو ادبي انجمن د جوړېدو له پاره د کندهار ښار موزون وباله. څرنګه چي په چارو کي ئې پراخ قدرت او صلاحيت درلود او دده خبره و فيصله د پاچا فيصله وه، ځکه ئې د دغه نېک اقدام له پاره هيڅ خنډ نه ليدو خو بيا ئې هم له پاچا محمد نادر خان سره تر مشورې وروسته د ادبي انجمن د تاسيس په کار شروع وکړه.
د کندهار ادبي انجمن د ۱۳۱۱ هـ ش کال د قوس پر نهمه د پنجشنبي په ورځ د ماپښين پر درو بجو د کندهار ښار د ارګ په عامه سلامخانه کي د يوې پراخي غونډي په ترڅ کي پرانيستل سو. د غونډي د جوړېدو اعلانونه يوه ورځ تر مخه خپاره سوي ول. په دې افتتاحيه غونډه کي پخپله وزير صاحب محمد ګل خان مومند، د بلدېي ( ښاروالی) رئيس محمد ناصر خان، د معارفو مدير مولوي صالح محمد، د طلوع افغان مدير عبدالحي حبيبي، د کندهار د اهل هنودو استازي ديوان بيربل کندهاري، د اهل تشيع استازي عبدالحسين خان[4] او د ادبي انجمن نوي ټاکل سوي رئيس محمد عثمان خان پښتون ويناوي وکړې. دوی ټولو په يوه خوله د پښتو ژبي د پراختيا او عامتيا پر اړتيا ټينګار کړی وو چي ويناوي ئې د انجمن په نشراتي اورګان " پښتو" مجله کي خپرې سوي دي. د افتتاحيه غونډي په پای کي د معارفو د مدير مولوي صالح محمد هوتک له کلامه پښتو ترانه د مکتب د شاګردانو له خوا وويل سوه.

**نن راغلی دئ دوران د پښتنو**

[3] طلوع افغان، نهم کال، د حوت ګڼه

[4] عبدالحسين خان د د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د رئيس پوهاند مير حسين شاه نيکه وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

**خدایه وکاږې ارمان د پښتنو**
**مبارک دي وي دا ځنګه ښه ساعت دئ**
**غمخوري کا نادر خان د پښتنو**
**هم مومند محمد ګل خان حاضره ناست دئ**
**مرکه ده د عمران د پښتنو**
**پښتو ژبه سمباليږي انجمن دئ**
**هم حاضر دي اديبان د پښتنو**
**د پښتو جنده سوه پورته برى راغى**
**خدایه پراخ کاندي ميدان د پښتنو**

مولوي صالح محمد هوتک په دغه ورځ خپل د پښتو صرف و نحو کتاب انجمن ته اهدا کړ. دا کتاب مولوي صاحب د انجمن تر جوړېدو ډېر پخوا کښلى وو. خطي نسخه ئې ما په افغان جرمن ويبپانه کي څو کاله پخوا معرفي کړې ده او د پاڼي په آرشيف کي زما تر نامه لاندي خوندي ده.
وزير صاحب په دې غونډه کي د انجمن پر اهدافو، وظايفو او تشکيلاتو خبري وکړې. د انجمن رئيس محمد عثمان خان پېنتون او غړي ئې غونډي ته ور وپېژندل. باید وویل سي چي د انجمن د مرستيال له پاره ئې فيصله کړې وه چي باید د افغانستان له نورو ولايتو څخه کوم تن باید وي. د دې مقام له پاره په ۱۳۱۳ش کال مولانا قيام الدين خان خادم وټاکل سو.[٥] انجمن د " پښتو" په نامه يوه مجله درلوده او د تاليف يو مجلس ئې هم جوړ کړى وو چي عبدالحى حبيبي، محمد يوسف ايازي، عبدالخالق واسعي، حاجي ولي محمد مخلص، حاجي عبدالغفور خروټى او محمد اعظم ايازي ئې غړي ول.
د کندهار ادبي انجمن د ۱۳۱۴ ش کال په سر کي کابل ته نقل سو او د کابل په ادبي انجمن کي مدغم سو چي وروسته بيا له هغه څخه پښتو ټولنه جوړه سوه.
د وزير صاحب محمد ګل خان مومند بل ستر فرهنګي کار د طلوع افغان جريده ټوله پښتو کول وه. طلوع افغان د غازي امان الله خان په امر په ۱۳۰۰ ش کال د مولوي صالح محمد په مديريت تاسيس سو. په سر کي ئې نشرات په دري/ پارسي ژبه وه خو په ځينو ګڼو کي ئې پښتو مطالب هم درلودل. زما د معلوماتو له مخي د پنځم کال په لومړۍ ګڼه ( ۱۳ سنبله ۱۳۰۴ش) کي د استقلال د اوومي کاليزي په مناسبت د نائب الحکومه وينا په پښتو چاپ سوې وه. د وينا جوابيه د عبدالقيوم اخندزاده په قلم هم په پښتو خپره سوې وه البته له دري ترجمې سره. په همدې مناسبت يوه پښتو ترانه هم چي د مکتب تجار يوه شاګرد ويلې وه، په طلوع افغان کي نشر سوې ده.
د پنځم کال د ميزان د ۲۴مي ګڼه کي کندهار ته د راتګ پر وخت د امان الله خان څو پښتو خبري او د مکتب د هلکانو پښتو ترانه چاپ سوې ده.

**ښه راغلى شاه افغانه ښه راغلى**
**زموږ د سر تاج و ښنانه ښه راغلى**

دا ترانه د مولوي صالح محمد کلام دئ.
د همدې کال د ميزان په ۲۸ مه ګڼه کي د امان الله خان ټوله وينا په پښتو راغلې ده او پر څنګ ئې د حاجي ولي محمد خان مخلص يو پښتو شعر هم چاپ سوى دئ.
له دې يادونو مي مراد دا دئ چي طلوع افغان يو مخ په پارسي نه خپرېدى، بلکي خال خال پښتو برخه ئې هم درلوده.
وزير صاحب محمد ګل خان د ټول اخبار د پښتو کېدلو امر وکړ او دا کار د ۱۳۱۱ش کال له لومړۍ ګڼي څخه پيل سو. دغه وخت د اخبار مدير علامه پوهاند عبدالحى حبيبي وو.
وزير صاحب محمد ګل خان د پښتو ژبې د ګرامر، ليکدود او لغاتونو له پاره خپل ځانګړي نظريات درلودل خو د خپلو نظرياتو د تحميل له پاره له خپل اداري اقتدار او صلاحيت څخه کار نه اخيست. په دې برخه کي ارواښاد عبدالرحيم هاتف يو روايت لري چي وزير صاحب د ادبي انجمن په يوه غونډه کي د پښتو الفبې څخه د (ښ) توري د ايستلو مسئله مطرح کړه. استدلال ئې دا وو چي دا توری ځيني پښتانه د (خ) په ډول تلفظ کوي او د (خ) توری موږ په الفبې کي لرو، نو بهتره به دا وي چي دا توری ايسته سي. فيصله ئې د انجمن راتلونکي غونډي ته پرېښووله. رحمت الله بابا چي د اولاد د نفقې برابرولو له پاره ئې عريضه نويسي کوله، په غونډه کي حاضر وو. ده به د خلکوعريضې په پښتو ژبه کښلې. تر غونډې وروسته ئې د يوه تن عريضه چي د وزير صاحب په عنوان او له کوم دولتي مقام څخه د شکايت په منظور وه،هم له معمول سره سم په پښتو وليکله او د عريضې په پای کي ئې د عارض له خولې داسي وليکل چي " که زما عرض واورېدل سي، خو ښه تر ښه، کنه نو زه مجبور يم چي خپل ږغ تر کابله

---

[٥] وګ: علامه رشاد، د کندهار يادښتونه، دوهم ټوک، ۲۳۳مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ورسوم". د " ښه تر ښه" کلمات ئې د عریضې تر نور متن په غورس قلم ولیکل. وزیر صاحب چې په دا سبا دغه عریضه ولوستله ، او د " ښه تر ښه" عبارت ئې د خپل مجوزه وړاندیز له مخې د (ښ) په حذف کې په (خ) تصور کړ، له هغه څخه " خه ترخه" جوړ سو. او " خه ترخه" خو د " ډېر ترخه" ، "زیات ترخه" معنا ورکوي. په داسي حال کي چي " ښه تر ښه" د عربي ژبي " فبها" معادل عبارت دئ. ځکه نو د (ښ) د حذف وړاندیز ورته مناسب ښکاره نه سو. بله ورځ چي د انجمن غونډه جوړه سوه، وزیر صاحب د خپل وړاندیز هیڅ یادونه هم ونکړه او رحمت الله بابا پوه سو چي د ده عریضې خپله اغېزه کړې وه. وزیر صاحب د پښتو ژبي د ننیو تیکه دارانو په شان د خپلو نظریاتو د تحمیل عادت نه درلود او نه ئې د خپلو نظریاتو د ردلو له امله له چا سره کینه په زړه کي ساتله. یو وخت چا ورته وویل چي رحمت الله بابا لوړ ادیب، او ښه شاعر دئ. ملي افکار لري، خو د ژوند شېرازه ئې ډېره ورانه ده. د اولاد د نفقي له پاره په سپینه ږیره مجبور دئ، عریضه نویسي وکړي. وزیر صاحب سمدستي له دولتي ملکیت څخه یو کوچنوټی انګوري باغ ور وباخښه او رحمت الله بابا ئې د بل له احتیاجه را وګرزاوه.
بله موضوع چي غواړم لږ څه ئې توضیح کړم، هغه دا ده، چي په ځینو لیکنو کي مي لوستي دي چي وزیر صاحب محمد ګل خان امر کړی وو چي په دولتي دوایرو کي دي مکتوبونه کي په پښتو ولیکل سي. دا مسئله به وزیر صاحب پخپلو راتلونکو پلانونو کي درلوده ځکه چي په کندهار کي ئې د خپل ماموریت په دوران کي د دربار مکتوبونه او اشتهارونه په پښتو ژبه لیکل خو په دولتي دوایرو کي د مکتوبونو د پښتو لیکلو فرمان تر ده وروسته د نائب الحکومه غلام فاروق خان له خوا صادر سو.وزیر صاحب د ۱۳۱۱ش کال د جدي تر لسمي پوري د کندهار تنظیمیه رئیس وو او د کب (حوت) پر اوومه کابل ته رهي سو.[٦] تر دغي نېټي وروسته د شمالي ولایاتو د تنظیمیه رئیس په توګه وټاکل سو. پښتو مجلې د ۱۳۱۲ش کال د دلوي په ګڼه ۳۹ مخ کي د " په کندهار کي د پښتو ژبي رسمي آب و عزت" تر سرلیک لاندي په یوه مضمون کي د نورو ولایتو او اعلی حکومتو مسئولین هم متوجه کړي دي چي د نائب الحکومه غلام فاروق خان په خیر د پښتو ژبي د رسمي کولو له پاره تلاش وکړي.[٧]
په عمراني برخه کي وزیر محمد ګل خان د میرویس نیکه پر مقبره باندي د لوی احمد شاه بابا د مقبرې په شان ( تر هغې لږ څه کوچنۍ) ګومبته ودانه کړه. دا ګومبته د کندهار د مشهور معمارباشي استاد نعیم جان له خوا ودانه سوه. استاد نعیم جان د استاد عبدالرحیم زوی او د استاد محمد صدیق لمسی وو. د نسب سلسله ئې د کندهار لوی معمار استاد محمد یاسین ته رسیږي. استاد محمد یاسین د احمد شاهي عصر ماهر معمار وو. د احمد شاهي ښار نقشه، چارسو او بازارونه او دغه راز د بابا د مقبرې ګومبته د استاد محمد یاسین د لاس یادګار دئ.[٨]
د میرویس نیکه پر مقبره باندي د کندهار د بلدیې ریاست له خوا داسي لیکل سوي دي:
" دا مرقد د ښاغلي توریالي پښتون او محرک د آزادی د پښتانه مرحوم حاجي میرویس خان نیکه هوتک دی چه پره دي ئی له خپلي ښادمنې مینې په میرانه وویستل او پښتانه ئې له استیلا څخه د متجاوزینو ازاد کړه. اته کاله ئې حکومت وکړ او په کال ۱۱۲۷ هـ ق یو زر یو سل اووه ویشتم قمري کال کي د هجرت وفات سوی دی. پخوا هم خورا مناسبه لوحه ئې درلودَ مګر په وخت د تجاوزات د اجانبه او جګړو لوحه ئې ورکه سوه. په کال ۱۳۵۱هـ ق ۱۳۱۱ش په دریم کال د سلطنت د اعلیحضرت پښتون محمد نادر شاه په توجه د ښاغلي پښتون محمد ګل خان مهمند رئیس تنظیمه د قندهار په یادګار د حمیت او لوړو خدمتو د دي ننګیالي پښتون او ښاغلي نیکه او د پاره د احیاء د ملي افتخاراتو بیا دا نوی مرقد نوی ودان او تعمیر او احاطه ئې ارت او یوه باغچه ورته ساز کړه سوه او دا لوحه د ریاست بلدیه له خوا ولیکل سوه.
د ننګ توته به مي هر هډ وي
چه پس له مړیني مي پر ګور راسي مینه"
په دغه وخت کي په کوکران کي د میرویس نیکه د ورور یحیی خان د زوی نور محمد خان (حاجي انکو) له اولادي څخه عطاء محمد خان مشهور په "خانان" د غلام محمد خان زوی د میرافضل خان لمسی او کورنی ئې اوسېدله. وزیر صاحب دغه عطاء محمد خان ته د کندهار په ارغنداو کي څلوېښت جریبه اعلی مځکه د بخشش په توګه ورکړه او د مقبرې د سرپرستی چاري ئې هم دغي کورنی ته وسپارلې چي اوس ( ۲۰۲۵ع) دغه سرپرستي د نوموړي غلام محمد خان د زوی رحمت الله خان په لاس کي ده. رحمت الله خان زما (م.هوتک) اشنا دئ او زه چي هر وخت کندهار ته ورسم، زیاتره ورسره ګورم.

---

[٦] غلام فاروق خان د سردار محمد عثمان خان زوی وو. ده په کندهار کي دوه واره د نائب الحکومه په توګه کار کړی دئ. اول وار په ۱۳۱۱ش کال تر ۱۳۱۴ش پوري او دوهم وار له ۱۳۱۷ش څخه تر۱۳۱۸ش پوري.

[٧] صمیم، محمد هارون، کندهار پښتو انجمن، ۴۱مخ

[٨] وګ: نعیمي، انجنیر محمد حسن، کندهاري معماران، ۱۳ــ ۱۵ مخونه، چاپ ۱۳۹۳ش


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د وزیر صاحب محمد گل خان مومند په امر او اراده د میوند د شهیدانو هدیره هم جوړه سوه. پر قبرونو باندي سپیني ډبري واچول سوې. د استاد نعیم جان معمار له خوا جگ ځلی پر ودرول سو. دغه راز د خواجه ابوالقاسم احمد بن حسن میوندي د مقبرې گومبته هم د وزیر صاحب په امر له سره ودانه سوه.
د کندهار سپین ږیري د وزیر محمد گل خان مومند د وخت په ارمان هر وخت بیانونه کوي. که زه له خپل پلرني ټاټوبي څخه لیري نه وای، دا بیانونه مي هرومرو راغونډول.
د وزیر صاحب اروا دي ښاده او د ښاغلي محمد داود مومند قلم دي تاند وي.

محمد معصوم هوتک
آټاوا ـ کاناډا
۱۷مه د مي ۲۰۲۵ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ